**مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی**

**د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز**

# تحلیل هفته

**شماره: ۹۱** (از ۱۰ الی ۱۷ عقرب ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

**د افغانستان-پاکستان اړيکي او د نوي حکومت سيمه ييز ليدلوری**

- د حامد کرزي د دورې اړیکي ........ ۴
- سيمه ييز ګواښونه او ګډې همکاری ........ ۵
- د سولې لپاره د کابل فعاله ډيپلوماسي ........ ۶

**پاکستان ته د اشرف غني د سفر مهم اړخونه**

- سوله ........ ۸
- د پاکستان راکتي بريدونه ........ ۹
- ستراتېژيک عمق ........ ۱۰

**آیا مخالفین مسلح مخالفین سیاسی اند؟**

- تجربهٔ مخالفت سیاسی در افغانستان ........ ۱۱
- مصالحهٔ ملی داکتر نجیب ........ ۱۲
- افغانستان غرب نیست ........ ۱۳
- وطن دوستی افغان‌ها ........ ۱۳


ACKU

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې اسلام اباد ته د ولسمشر اشرف غني د راتلونکي او لومړني رسمي سفر او د دغه سفر پر اغېزو او همدا راز د دولت له وسله والو مخالفینو سره د سولې په تړاو د ولسمشر غني پر اقداماتو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د څېړنیز بورډ شننې لولئ.

ښاغلي غني د چین له سفر څخه له راستنېدو وروسته، پاکستان ته د سفر د چمتووالي خبره وکړه؛ خو دا چې ولسمشر غني د لوړې په مراسمو کې ګاونډي هېوادونه د خپل بهرني سیاست لومړۍ کړۍ وبلله، چې د افغانستان په بهرني سیاست کې د هغوی اهمیت په ډاګه کوي او بیا په ګاونډیو هېوادونو کې هم پاکستان او ایران د افغانستان د سولې او ثبات په تړاو تر ټولو مهم بلل کېږي؛ نو د کومو لاملونو له مخې د سعودي او چین له سفر وروسته اسلام اباد انتخاب شو؟ ایا د پاکستان سفر به د سولې لپاره د اشرف غني د پلان یوه برخه وي؟ همدا راز د دغه سفر د اجنډا مهم ټکي به کوم وي؟ او په ټولیز ډول د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کولو په لار کې شته خنډونه کوم دي؟

د دې ترڅنګ ښاغلی غني د پخواني ولسمشر او نورو افغان چارواکو خلاف، د دولت وسله والو مخالفینو ته د سیاسي مخالفینو خطاب کوي. د دولت د وسله والو مخالفینو پر وړاندې د نوموړي دا چلند کومې انګېزې لري او د افغانستان تاریخ ته په کتو سره ترکومه دا اصطلاح صدق کوي؟ دلته پر همدغو موضوعاتو د شننو تفصیل لولئ:

ACKU

## د افغانستان-پاکستان اړیکې او د نوي حکومت سیمه ییز لیدلوری




ولسمشر اشرف غني د چین له سفر وروسته، پاکستان ته د سفر د تیارۍ خبره وکړه او ښايي په راتلونکو ورځو کې به اسلام آباد ته په یوه رسمي سفر ولاړ شي. دا سفر د ولسمشر په توګه د ښاغلي غني له ټاکل کېدو وروسته، سعودي عربستان او چین ته د نوموړي له سفرونو وروسته دی او له همدې امله دا سفر نه یوازې دا چې ارزښتناک دی، بلکې د سولې لپاره د نوي حکومت د فعالې ډیپلوماسۍ هنداره بلل کېږي.

د دغه سفر په اړه په افغاني او نړیوالو رسنیو کې تاوده بحثونه روان دي. پاکستانیان او په تېره بیا ځینې مهم پاکستاني ډیپلوماتان دغه سفر ته ډېر هیله من دي او اسلام آباد ته یې د اشرف غني سفر د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په نېک فال نیولی. په افغانستان کې هم د دغه سفر د اجنډا په اړه بحثونه کېږي چې د بېلګې په توګه، د ملي شورا ځینې غړو د افغانستان پر ختیزو سیمو د پاکستاني پوځ د راکټي بریدونو پر مسئلې، له پاکستان سره پر جدي خبرو کولو ټینګار کړی.

له بلې خوا د امریکا پنټاګون هم د افغانستان د امنیت په تړاو په خپل شپږ میاشتني راپور کې دواړه لوري (پاکستان او افغانستان) هڅولي، چې د امنیت د ښه کېدو لپاره دې د اړیکو د رغولو او د همکاریو د زیاتولو لپاره جدي اقدامات وکړي. خو پوښتنه دا ده، چې ولسمشر غني ولې د سعودي او چین له سفرونو وروسته اسلام اباد انتخاب کړ؟ او ایا دا سفر به د دواړو لورو ترمنځ د اړیکو په ښه کولو کې رغنده رول ولوبوي؟ همدا راز د ولسمشر کرزي د واکمنۍ اړیکې به ترکومه له نوي افغان حکومت‌سره د پاکستان پر اړیکو اغېز ولري؟

## د حامد کرزي د دورې اړیکې:

په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ لسیزو کې د افغانستان په تړاو د پاکستان پالیسي تر ډېره پر ستراتېژیک عمق راڅرخېده، ترڅو د پاکستان پرخلاف د کابل-ډهلي اتحاد مات کړي؛ مګر هند که څه هم د افغانستان په کورنۍ جګړه کې هم له ښکېلو نړیوالو لوبغاړو څخه و، خو د سپتامبر د ۱۱مې له پېښې او پر افغانستان د امریکا له یرغل وروسته یې د اقتصادي-تجارتي اړیکو او پانګونو له امله، په افغانستان کې خپل مسخه شوی نرم ځواک بیا راژوندی کړ او د بی بی سي د یوې سروې له مخې، په افغانستان کې یې یو منلی حیثیت راخپل کړ. همدا لامل و، چې د هند بهرنیو چارو وزیر جسونت سنګ یو وخت ویلي وو، چې په کابل کې د هندو لفظ په خپله پاسپورت دی.

پاکستان هم د هند له همدغه زیاتېدونکي رول څخه وېره لري او د هندي کونسلګریو، په تېره بیا د جلال اباد او کندهار پر کونسلګریو یې ډېرې نیوکې هم وکړې، چې د دوی په ګمان دا پاکستان ته جوړې شوې دي. له همدې امله د کرزي په دوره کې پاکستان له افغانستان سره نېژدې اړیکې نه درلودې؛ که څه هم حامد کرزي په خپلو ویناوو کې ویل چې: «پاکستان زمونږ ورور دی خو هند زمونږ ستر ملګری دی[1]»

کرزي که څه هم پاکستان ته ګڼ سفرونه وکړل؛ خو پای یې بیا پر داسې ځای وشو چې حامد کرزي پخپله وروستۍ وینا کې وویل، چې د افغانستان د سولې کیلي له پاکستان سره ده او پاکستان غواړي چې د افغانستان بهرنۍ چارې په تېره بیا له هند سره اړیکې تر خپل کنټرول لاندې ولري. په داسې حال کې، چې په ۲۰۱۱ کال کې یې د پاکستان له مشهور ژورنالېست سلیم صافي سره په یوه مرکه کې ویلي وو، چې که پر پاکستان برید وشي نو کابل به د اسلام اباد ترڅنګ درېږي. له همدې امله پاکستاني ډیپلوماتانو حامد کرزی تل یو ناباوره کس باله.

په ټولیز ډول د ښاغلي کرزي د واکمنۍ پر مهال د لاندې فکتورونو له امله له پاکستان سره اړیکې ډېرې خرابې شوې:

۱- د پاکستان خاوره د افغانستان پرخلاف استعمالېدل.

۲ - په پاکستان کې د افغان دولت د وسله والو مخالفینو پټنځایونه.

۳ - په افغانستان کې د هند زیاتېدونکی رول.

[1] Hindustan Times, Pakistan our twin brother, India a friend: Karzai, October 5 2011, <http://www.hindustantimes.com/india-news/newdelhi/pakistan-our-twin-brother-india-a-friend-karzai/article1-753826.aspx>

ACKU

۴ - پر پاکستان دا تور چې هغه طالبان چې له افغان حکومت سره خبرې کول غواړي یا ترور کوي او یا یې په بندیخانو کې ساتي.

۵ - له هند سره د افغانستان ستراتېژیک تړون او له هغه هېواد څخه افغان اردو ته نه یوازې دا چې وسلې ر انیول بلکې د هغوی له خوا د افغان اردو روزنه.

٦ - د پاکستان له خوا د افغانستان پر ختیزو سیمو توغندیز بریدونه.

۷ - د ډېورنډ کرښې د مسئلې راپورته کېدل او داسې نور.

دا چې په افغانستان او پاکستان کې هم مهاله، په یو کال کې دننه حکومتي جوړښتونه نوي شول؛ په اسلام اباد کې نواز شریف او په کابل کې اشرف غني واک ته ورسېدل، اوس داسې هڅې رواني دي چې دواړه لوري له یو بل سره اړیکې ورغوي. پاکستاني ډيپلوماتان هم په خپلو لیکنو کې همدې خبرې ته اشاره کوي، چې د دوی په وینا د ناباوره حامد کرزي له تللو سره اوس د اشرف غني له راتګ سره د ښو اړیکو جوړولو یو نوی فرصت زېږېدلی او باید دواړه لوري ګټه ترې واخلي. البته د اړیکو ښه کولو لپاره به له شعار، بیانونو، او ګډو اعلامیو هاخوا عملي ګامونه ډېر رول ولوبوي؛ څکه که دغسې اقداماتو دا اړیکې رغولی شوی، نو د حامد کرزي په سفرونو به رغېدلې وې.

## سیمه ییز ګوانښونه او ګډې همکاری:

د افغانستان او پاکستان تاریخي، جغرافیوي، کلتوري او دیني اشتراکات او له اقتصادي پلوه پر یو بل تکیه، هغه عوامل دي چې دواړه هېوادونه له یو بل سره ژورو او صادقانه اړیکو درلودلو ته اړباسي. همدا لاملونه دي، چې که دغو دواړو هېوادونو غوښتي یا نه، له یو بل سره یې پراخې اړیکې درلودلې او لري به یې.

کله چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سړې جګړې پر مهال اړیکې تر ډېره خرابې وې، بیا هم د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې روانې وې.[2] د حامد کرزي د واکمنۍ په 13 کلنه دوره کې هم دواړو هېوادونو تر ډېره کړکېچنې اړیکې درلودې؛ خو تجارتي اړیکې یې بیا هم له دوه میلیارده ډالرو پورته وې. دغو ټکو ته په کتو سره، په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره د دواړو هېوادونو ترمنځ ښو اړیکو ته اړتیا ده او بالعکس د سیمې او پاکستان ثبات هم د افغانستان

---

[2] د طارق رحیم د دکتورا رساله:
Tariq Rahim, Pak-afghan trade relations 1970-1990, Ph.D Thesis, Peshawar University.

ACKU

په سولې او ثبات پورې تړلی دی. هرڅومره چې پاکستان په افغانستان کې مثبت رول ولري، هومره به پاکستان د منځنۍ اسیا له حیاتي پروژو څخه مثبته ګټه پورته کړي.

د سیمې په کچه د ډېرې هېوادونو پر وړاندې شته ګواښونه هم سره تړلي دي. له منځنۍ آسیا رانیولې تر سوېلي اسیا پورې او بیا له چین څخه نیولې تر منځني ختیځ پورې ډېری هېوادونه ورته ګواښونه لري، چې پر وړاندې یې مبارزه په هر هېواد کې له ګاونډیانو څخه ګډه همکاري غواړي. د نشه یي توکو او د انسانانو قاچاق، د اوبو په سر شخړې (د پاکستان او افغانستان ترمنځ، د هند او پاکستان ترمنځ، یا د منځنۍ اسیا ځینې نور هېوادونه) د سخت دریځۍ پر وړاندې مبارزه او داسې نور یې د بېلګې په ډول یادولی شو.

داسې برېښي چې ولسمشر اشرف غني هم، دې ټکي ته پام اړولی او ښایي د سیمې په کچه په دا ډول همکاریو تمرکز وکړي. څو ورځې وړاندې د پاکستان لاهور ښار ته څېرمه په واګه بندر کې د یوه ځانوژونکي برید په تړاو، چې لسګونه تنه پکې ووژل شول، د ولسمشرۍ ماڼۍ په یوه ویناپاڼه کې د ولسمشر له قوله ویل شوي وو، چې د سیمې په کچه د دغه راز ګواښونو مخنیوی ګډو هڅو او جدي همغږۍ ته اړتیا لري.

په ټوله کې د سیمې د ټولو هېوادونو او په تېره بیا د پاکستان-هند-افغانستان په ګټه ده، چې په اوږدمهالو ګډو ګټو لرونکو پروژو کار وکړي او د یو بل د ملي ګټو وروستۍ سرې کرښې هم وپېژني.

## د سولې لپاره د کابل فعاله دیپلوماسي:

دا چې ولسمشر اشرف غني سوله د خپل هېواد لومړیتوب بولي؛ نو د ولسمشر په توګه له ټاکل کېدو سره سم یې، د سولې په تړاو له سیمه ییزو لوبغاړو (ترکیې، سعودي، چین او اوس پاکستان) سره د اړیکو د پراختیا هلې ځلې پیل کړې دي.

ښاغلي غني په بیجینګ کې هم د اسیا زړه (استانبول پروسې) په څلورمه غونډه کې، چې د ایران، پاکستان او هند په ګډون د ۱۴ هېوادونو استازو ګډون پکې کړی و، وویل: «سوله زموږ اساسي لومړیتوب دی، له سیاسي مخالفینو په تېره بیا طالبانو غواړو، چې په بین الافغاني تفاهم کې ونډه واخلي او له نړیوالو څخه غواړم، چې د افغانستان د سولې د بهیر ملاتړ وکړي.»

که څه هم اشرف غني تراوسه د سولې په تړاو د کوم پلان د جزئیاتو په اړه څه نه دي ویلي؛ خو د ډېری شنونکو په اند، نوموړي د سولې د ټینګښت لپاره فعاله دیپلوماسي خپله کړې او له نویو لارو به د سولې بهیر د بریا هڅه وکړي. د سولې

لپاره د نوموړي د تګلارې په اړه تر اوسه قوي نظر دا دی، چې ترکیې، سعودي او چین په دې برخه کې د جدي همکارۍ ژمنې ورکړې او له همدې امله یې د دولت وسله والو مخالفینو ته د خطاب ډول هم متفاوت دی. نوموړی د نورو افغان چارواکو او پخواني ولسمشر خلاف، طالبانو ته د سیاسي مخالفینو او خفه ورونو خطاب کوي.

د همدغو هېوادونو د ملاتړ اغېز د چین له سفر وروسته په یوه خبري کنفرانس کې د نوموړي له خبرو څرګند و. ښاغلي غني وویل، چې د سولې د بهیر په اړه د دولت نظر "پراخ" شوی؛ که څه هم څرګنده نه ده چې له پراخېدو د ولسمشر موخه څه ده؟ خو د چین د نوم په اخېستو سره یې وویل، چې کله ستونزه درې اړخیزه شي، نو ښکاري چې قضیه یوازې د دوو لورو ترمنځ نه ده (چینایي چارواکي هم په افغانستان کې د روان حالت په اړه د سینګیانګ ایالت په تړاو اندېښنه لري او چوپ نه پاتې کېږي.)

ځینې شنونکي پر دې باور دي، چې چین د خپل سنکیانک ایالت لپاره پر پاکستان فشار نه واردوي، په داسې حال کې چې د پاکستان پر لاسوهنو پوهېږي هم، نو د افغانستان لپاره به ولې پر پاکستان فشار وارد کړي؟

که څه هم دا یو منطقي او تاریخي استدلال دی؛ خو چین د افغانستان د سولې بهیر د بریا لپاره ځکه تر پخوا زیاته لېوالتیا لري، چې:

**لومړی:** د دغه هېواد د اوسنیو واکمنانو په بهرنۍ پالیسۍ کې د "لوېدیځ په لور تګ" او په تېره بیا د ورېښمو د نوې لارې نقشې ترسترګو کېږي.

**دویم:** په بدخشان ولایت کې امنیتي وضعیت ورځ تر بلې د خرابېدو په لور روان دی، چې دا بیا د چین لپاره د سینګیانګ ایالت د موضوع په تړاو ډېره د اندېښنې وړ ده.

**دریم:** د القاعدې شبکې مشر ایمن الظواهري هم د چین پرضد د جګړې اعلان کړی. ځکه نو همدا درې لاملونه د دې باعث شوي، چې چین د افغانستان په سوله او ثبات کې لیوالتیا وښیي.

# پاکستان ته د اشرف غني د سفر مهم اړخونه




د افغانستان پخواني ولسمشر حامد کرزي په خپله ۱۳ کلنه دوره کې پاکستان ګڼ سفرونه وکړل؛ خو د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې بالآخره پر یوه داسې ځای ودرېدې، چې حامد کرزي د ولسمشر په توګه په خپله وروستۍ وینا وویل، چې پاکستان غواړي د افغانستان بهرنۍ پالیسي تر خپل کنټرول لاندې وساتي. له همدې خبرې څرګنده ده، چې پاکستان ته د نوموړي سفرونو څومره رغنده پایله درلوده!

که اسلام آباد ته د اشرف غني سفر هم، هماغو پخوانیو سفرونو ته ورته وي؛ نو نه به په افغانستان کې له سولې او ثبات سره څه مرسته وکړای شي او نه به په سیمه کې څه پرمختګ ولیدل شي. ځکه نو له پاکستان سره د رغنده خبرو اترو لپاره، په لومړي ګام کې لاندې نکتې د بحث د اجنډا مهم اړخونه کېدای شي:

**سوله:**

داسې ښکاري چې ولسمشر اشرف غني خپل د سولې پلان ګام په ګام تعقیبوي. د اشرف غني له سفرونو څرګنده ده، چې دی د افغانستان د سولې لپاره د ترکیې، سعودي، چین او پاکستان رول ته ارزښت ورکوي.

د افغانستان د سولې او ثبات لپاره پاکستان خورا مهم هېواد دی، له همدې امله اشرف غني غواړي، چې په دې قضیه کې له داسې هېوادونو مرسته وغواړي، چې د افغانستان سوله او ثبات یې په ګټه وي او همدغه هېوادونه بیا نه یوازې دا چې پر پاکستان یې د فشار لپاره وکاروي، بلکې د پاکستان د ژمنو تضمین هم وکړای شي!

د اشرف غني له واک ته رسېدو سره د پاکستان په ډيپلوماسۍ کې هم د بدلون څرک ترسترګو شو. کابل ته د دغه هېواد د ملي امنيت او بهرنيو اړيکو د سلاکار سرتاج عزيز او بيا اوس د پاکستان د لوی درستيز راحل شريف له سفرونو او د هغوی له څرګندونو ښکاري، چې هغوی هم د بدلون په تمه دي. کابل ته د سرتاج عزيز د سفر پر مهال دواړو لورو ژمنه وکړه، چې د يو بل پرضد به بيانونه نه ورکوي؛ ځکه دا کار دوه اړخيزې اړيکې له بې باورۍ سره مخ کوي او ترڅنګ يې دا ژمنه هم وشوه، چې دواړه لوري به خپله خاوره د يو بل پرخلاف نه استعمالوي. که څه هم دا خبرې د تشريفاتو په کچه کې وې؛ خو لږترلږه د پاکستان د لېوالتيا څرګندونه کوي.

د پاکستاني چارواکو پرله پسې سفرونه او د راحل شريف له خوا په دغه سفر کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ستراتېژيک هوکړې ليک وړانديز، د دې ښکارندوی دي چې غواړي له افغانستان سره د اړيکو يو نوی فصل پرانيزي. په دې توګه به د سولې د ټينګښت په موخه د ولسمشر غني دا سفر د راروانو سفرونو لپاره پيلامه شي.

### د پاکستان راکټي بريدونه:

له تېرو څلورو کلونو راهيسې پاکستان د افغانستان پر ختيزو سيمو له ۵۰۰۰ زيات راکټونه توغولي دي[3]. په دغو بريدونو کې تراوسه سلګونه تنو ته مرګ ژوبله اوښتې او ډېری خلک د کونړ له سرحدي سيمو څخه نورو خونديو ځايونو ته کډه شوي دي.

په افغانستان کې دا قضيه په تېره بيا د ولسمشر کرزي د واکمنۍ په وروستيو کې ډېره توده شوه، چې په اوسني وخت کې د پاکستان د "ستراتيژيک عمق" تګلارې د تعقيبولو ترڅنګ، په نړيواله کچه د پاکستان د دوه مخي سياست يو ستر ثبوت بلل کېږي.

د افغانستان د مشرانو جرګې ځينو غړو له اشرف غني څخه وغوښتل چې پاکستان ته په سفر کې دې، د خبرو اترو په اجنډا کې په دې قضيې ټينګار وشي. داسې تمې شته دي، چې د اشرف غني له دغه سفر سره بايد لږترلږه پاکستان په خپلو ډيپلوماتيکو خبرو کې د ربښتيني اوسېدو لپاره دا بريدونه ودروي، کنه په افغانستان کې د پاکستان په تړاو شته افکارو ته په کتو سره به، دلته د هغوی مخ پر ځوړ نرم ځواک د ګرنګ ترغاړې ورسېږي.

---

[3] Rafi Sidiqi, Afghanistan to Call on UN to Help Stop Pakistani Rocket Attacks, tolo news, 27th august 2014, see the link <http://www.tolonews.com/en/afghanistan/16125-afghanistan-to-call-on-un-to-help-stop-pakistani-rocket-attacks>

## ستراتېژيک عمق:

ډېری افغان شنونکي په دې اند دي، چې پاکستان په يو ډول د انګريزانو د مهال پاليسي تعقيبوي، چې دوی (انګريزانو) پکې د خپلې فارورډ پالیسۍ له مخې غوښتل، په افغانستان کې يو حايل (Buffer State) حکومت ولري. اوس د همدغې پالیسۍ په تعقيب اسلام آباد غواړي، چې په کابل کې يو ملګرى حکومت ولري، ترڅو نه يوازې دا چې ځان د هند-افغانستان ترمنځ له راګير کېدلو څخه وژغوري، بلکې له هند سره په جګړه کې له خپلې لوېديزې پولې څخه هم بې غمه شي.

اسلام آباد د همدې تګلارې -ستراتېژيک عمق- لپاره له ډېرو کلونو راهیسې کار کوي، چې همدې چارې بیا په کابل او ډهلي کې د پاکستان پرخلاف بې باوري زيږولې ده. د دې ترڅنګ اسلام آباد په افغانستان کې د ډهلي د زياتېدونکي رول په اړه هم اندېښمن دی او په تېره بيا په امنيتي او نظامي ډګر کې له هند سره د کابل نېژدې والي سخت اندېښمن کړي دي.

دا چې د امريکا د دفاع وزارت په شپږ مياشتني راپور کې راغلي، چې پاکستان اوسمهال هم اورپکي د افغانستان او هند پرخلاف استعمالول غواړي، د همدغه ستراتېژيک عمق په لور يې يوه اشاره ده.

همدغه ټکي ته په پام سره، د افغانستان نوی حکومت هم بايد له يوې خوا پاکستان دې ته وهڅوي، چې په افغانستان کې پر طفلانه هيلو ولاړه "د ستراتيژيک عمق" تګلاره پرېږدي او له بلې خوا هڅه وکړي، چې د هند په اړه د پاکستان ډېرى اندېښنې هم لرې کړل شي؛ ځکه کابل ته چې څومره له اسلام آباد سره اړيکې مهمې دي، هغومره له ډهلي سره هم ارزښتناکې دي.

پاکستان هم بايد له کابل سره د اړيکو د ښه کولو لپاره د ملګرتوب او همکارۍ ښه ځراغونه ورکړي، چې دا به يې په کابل کې نرم ځواک بيا ورغوي؛ د بېلګې په ډول په لومړي ګام کې، له افغانستان څخه واردات زياتول، په ترانزيټي لاره کې نرم والی، پر تازه مېوو ټکس کمول[4]، په افغانستان کې پانګه اچونه زياتول او په امنيتي ډګر کې د پولې له هغې غاړې توغنديز بريدونه بندول.

[4] پاکستان اوسمهال له افغاني تازه مېوو څخه ۳۵سلنه ټکس اخلي.

## آیا مخالفین مسلح مخالفین سیاسی اند؟



تعبیر رئیس جمهور غنی از مخالف سیاسی در میان افراد و حلقات نزدیک به امریکا در افغانستان، عکس العمل‌های مخالف را موجب گردید. رئیس جمهور مخالفین مسلح دولت، بخصوص طالبان را مخالفین سیاسی دولت نامید و افغان‌ها را یکسره وطن پرست خواند که این اشارهٔ وی، طالبان را هم شامل می‌شد. در مقابل عده‌ای ضمن تأکید بر اینکه طالبان هیچ رابطه‌ای به افغانستان، بعنوان اتباع این کشور ندارند و دشمن افغانستان اند، اشرف غنی را متهم به عدم درک درست مخالف مسلح از مخالف سیاسی نمودند.

این گروه به این باور اند که مخالف سیاسی به شخص یا گروهی اطلاق می‌شود که قانون اساسی کشور را بپذیرد و در چهارچوب ارزش‌های مدنی برای رسیدن به قدرت سیاسی مبارزه نماید. آنانی که برای دسترسی به قدرت راه جنگ و خشونت را برگزیده‌اند، مخالف سیاسی نیستند و آنانرا باید تروریست نامید که باید بین دو گزینه مخیر گردند؛ تسلیم شدن یا مرگ!

## تجربهٔ مخالفت سیاسی در افغانستان:

نگاهی به تاریخ معاصر افغانستان این نکته را روشن می‌سازد که مخالفت سیاسی در این کشور همیشه تبارزی خشونت‌آمیز داشته است. دلیل این امر نیز واضح است و آن اینکه تجربهٔ نظام مردم سالار در طول تاریخ این کشور، کوتاه مدت و توام با شکست بوده است.

تجربهٔ ده سال دموکراسی در دوران سلطنت ظاهرشاه که به دههٔ دموکراسی معروف است، نتوانست افغانستان را از مداخلهٔ خاندان سلطنتی در امر حکومت نجات دهد. همان بود که ناراضیان از دولت، راه زور را برای رسیدن به قدرت برگزیدند و با حمایت از شهزادهٔ قدرت طلبی چون داودخان، دست به کودتا زدند و بساط رژیم سلطنتی را برچیدند. در این زمان گروه دیگر

ACKU

از مخالفین نظام که اسلامگرایان بودند نیز علیه وی دست به اسلحه بردند. چند سال بعد کمونیست‌ها یعنی همان‌هایی که داوود را به قدرت رسانیده بودند، دست به کودتا زدند و با کشتن او و خانواده‌اش، رژیم جدیدی را در این کشور بمیان آوردند.

جنگ مسلحانه علیه رژیم کمونیستی ۱۴ سال طول کشید. در طول این مدت رژیم کمونیستی از مخالفین مسلح خویش بنام اشرار و تروریست و باندیست نام می‌برد و هرگونه تمایل به صلح با آنان را، خیانت می‌شمرد. وقتی ببرک کارمل به کمک نیروهای روسی به قدرت رسید، گفت که اگر ما دست به اقدام نمی‌زدیم و بساط ظلم حفیظ الله امین را از میان نمی‌بردیم، وی با اشرار و باندیست‌ها دست بدست هم می‌دادند و تمام دست‌آوردهای انقلاب عظیم هفت ثور را نابود می‌کردند.

## مصالحهٔ ملی داکتر نجیب:

اما همین رژیم سرانجام مجبور شد تا در سیاست خود تغییر وارد آورد و داکتر نجیب سیاست مصالحهٔ ملی را اعلام نمود. او بارها با عجز ولابه از مخالفین خواست تا بیایند و در حکومت با وی شریک گردند. حتی وی حاضر شده بود تا پست وزارت دفاع را به احمدشاه مسعود بدهد، اما مخالفین حاضر به سازش نشدند.

در همان زمان هم (مانند امروز) تعدادی از افراد قدرتمند در داخل حزب دیموکراتیک خلق وجود داشتند که مجاهدین را بعنوان مخالفین سیاسی نمی‌پذیرفتند و خواهان تسلیمی آنان بودند. آن‌ها حتی داکتر نجیب را به سازش و تسلیم متهم می‌نمودند، اما چون اتحاد شوروی از این گرایش حمایت نمی‌کرد، آن‌ها تجرید شدند و سرانجام رژیم داکتر نجیب سرنگون شد.

جنگ‌های مجاهدین نیز جنگ میان مخالفین سیاسی بود. حزب وحدت و حزب اسلامی با حکومت استاد ربانی درگیر جنگ شدند. این جنگ‌ها به این دلیل بود که هرجهت گمان می‌کرد برای رسیدن به قدرت دلخواه خویش راهی جز جنگ ندارد. زمانیکه جنرال دوستم وفاداری خود را تغییر داد و با مخالفین حکومت استاد ربانی یکجا شد، استاد ربانی حتی علیه وی اعلام جهاد نمود.

بمیان آمدن طالبان موجب شد تا مخالفین نظامی سابق تمام مخالفت‌های خود را کنار بگذارند. دیگر کسی نمی‌گفت که باید علیه دوستم جهاد صورت گیرد.

وقتی طالبان نود درصد از خاک افغانستان را زیر کنترول خود داشتند، جبههٔ متحد علیه آنان می‌جنگید. آن‌ها مخالفین سیاسی نظام طالبان بودند. دلیل جنگ آنان نیز این بود که طالبان حاضر به تقسیم قدرت با آنان نبودند.

ACKU

## افغانستان غرب نیست!

این تعریف از مخالف سیاسی که آنانی که برای دسترسی به قدرت راه جنگ و خشونت را برگزیده‌اند، مخالف سیاسی نیستند می‌تواند در کشورهایی با تجربهٔ طولانی از دموکراسی صادق باشد؛ اما در یک کشور درگیر بحران مانند افغانستان که همیشه مخالفت سیاسی با خشونت همراه بوده است، مصداقی ندارد. «حتی در انگلستان که مادر دموکراسی خوانده می‌شود، نهضت جمهوریخواه در ایرلند شمالی IRA راه جنگ را برگزیده بود، اما دولت انگلستان حاضر شد تا مشکل با این گروه را از راه مذاکره حل نماید».

با توجه به همین تجربه در افغانستان، ایالات متحدهٔ امریکا در انتخابات اخیر ریاست جمهوری مداخله نمود و هردو گروه رقیب را بنام «حکومت وحدت ملی» بر مسند قدرت نشاند تا بار دیگر مخالفت سیاسی به خشونت نیانجامد.

## وطن دوستی افغان‌ها:

رهبران مجاهدین روزگاری در پشت مرزهای این کشور و مهمان کشورهای همسایه بوده‌اند. میزان نفوذ کشورهای میزبان بر آنان، کمتر از میزان نفوذ امروز پاکستان بر طالبان نبود. اما وقتی آن‌ها به افغانستان بازگشتند، آن پیوندها کمرنگ شد و حتی در موارد زیادی به مخالفت انجامید.

پس این سخن که چون طالبان از حمایت پاکستان برخوردار اند، بنابراین به منافع ملی کشور وفادار نیستند، می‌تواند اتهام متقابلی را هم در قبال داشته باشد؛ چون مخالفین صلح با طالبان از وابسته به کشورهای غربی اند و شواهد نشان می‌دهد که برنامهٔ غرب برای جهان اسلام جنگ است، پس این عناصر نیز به منافع ملی افغانستان وفادار نیستند. پایان

ACKU

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)

CSRS